# د امنیت شورا

خپریدل: عمومی
د ۲۰۰۰ کال د اکتوبر ۳۱

## ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) نمبر پریکړه

**دا پریکړه د ۲۰۰۰ کال د اکتوبر د میاشتې په ۳۱ د امنیت شورا له خوا او د دې شورا په ۴۲۱۳ غونډه کې تصویب شوې.**

*د امنیت شورا*

د خپلو پریکړو یعني د ۱۹۹۹ د اګست ۲۵ ۱۲۶۱ (۱۹۹۹)، د ۱۹۹۹ د سپټمبر ۱۷ ۱۲۶۵ (۱۹۹۹)، د ۲۰۰۰ د اپریل ۱۹ ۱۲۹۶ (۲۰۰۰) او د ۲۰۰۰ د اګست ۱۱ ۱۳۱۴ (۲۰۰۰) پریکړې او همدارنګه د همدې شورا د مشر د اړونده بیانونو په یادولو سره، او هم د ښځو د حقونو او د سولې د نړیوالې ورځې د ۲۰۰۰ کال د مارچ د ۸ نېټې، د (SC/6816) پریکړې (د ښځو نړیواله ورځ) لپاره د ښځو د ورځې په مناسبت مطبوعاتو ته د دې شورا د مشر د بیان په یاد راوړل،

د عمل لپاره د پکن د اعلامیې او تګلارې (A/52/231) د ژمنو او همدارنګه د ملګرو ملتونو د ۲۳ ځانګړې غونډې د لاسته راغلو اسنادو په یاولو سره، "ښځې ۲۰۰۰: د جنسیت د چارو برابری، د ۲۱ پیړۍ لپاره پراختیا او سوله" (A/S-23/10/Rev.1)، په خاص ډول د ښځو او پوځی شخړو په تړاو،

د نړیوالې سولې او امنیت د ساتلو لپاره د امنیت شورا د میثاق لاندې د ملګرو ملتونو د میثاق د ابتدایې مسولیت د اصولو او موخو په پام کې نیول،

د ملکي کسانو په خاص ډول د ښځو او ماشومانو په هکله چې په زیاته کچه د پوځي شخړو له امله متاثره کیږي چې کډوال او بېځایه شوی داخلي کسان هم په کې شامل دی او په دوامداره توګه د جنګیالیو او پوځي عناصرو له خوا تر هدف لاندې نیول کیږي د اندیښنو څرګندول او همدارنګه او په دوامدره سوله او پخلاینې کې د دې پایلو د اغیزو پیژندل،

د شخړو د مخنیوی او حل لارو او د سولې د تامین دهځو په برخه کې د ښځو د پام وړ نقش مجدد اظهار او بیان او د امنیت او سولې د ساتلو او ودې په ټولو هڅو کې د ښځو د برابری برخې اخیستنې او بشپړ ګډون په اهمیت تاکید او د شخړو د مخنیوی او حل لارو په اړه د تصمیم نیولو په چارو کې د هغوی د نقش د زیاتوالی ضرورت،

د شخړو پر مهال او له هغو وروسته د ښځو او نجونو د حقونو په اړوند د نړیوالو بشري او بشري حقونو د قوانینو د بشپړ تطبیق په اړه تاکید،

ټولو خواوو ته په دې ټکي ټینګار کول چې داډ ورکړي، چې د ماین پاکولو او له ماینونو څخه د باخبرتیا پروګرامونه د ښځو او نجونو ځانګړې اړتیاوې په پام کې نیسي. په دې بیړنی اړتیا باندې پوهیدل چې د جندر مفکوره د سولې ساتنې په عملیاتو کې یو لوری لري او په دې اړوند د ویندوباګ اعلامیه او د جندر د مفکورې لوری معلومول د سولې ساتنې د ملاتړ د عملیاتو څو اړخیز عملیاتو نه (S/2000/693) په پام کې نیول،

همدارنګه د هغه وړاندیز اهمیت درک کول چې د هغه د مشر په هغې وینا کې نغښتې دې چې د ۲۰۰۰ د مارچ په ۸ رسنیو ته په شخړییزو حالاتو کې د ښځو او ماشومانو د ساتنې ځانګړو اړتیاوو او بشري حقونو په باره کې د سولې ساتنې د ټولو کارمندانو د خاصې روزنې لپاره ایراد کړه،

د دې درک کول، چې په ښځو او نجونو باندې د ویله والي شخړې اغیز، موثر موسسه وي تدبیرونه چې د هغوي خوندیتوب تضمین کړی او د سولي په پروسه کې د هغوي بشپړه ونډه اخیستل کولای شي تر ډیرې اندازې د نړیوالي سولي او ثبات په ساتنه او بهتر کولو کې برخه واخلي،

د دې اړتیا په ګوته کول چې په ښځو او نجونو باني د وسله والي شخړې د اغیز په باب ډیټا ټینګه شي،

۱. غړي دولتونه دې ته اړباسي چې د ښځو زیات شوی استازیتوب تضمین کړي د تصمیم نیولو په ټولو سطحو کې په ملي، سیمه ییزو او نړیوالو موسسو او میکانیزمونو کې د شخړې د مخنیوی، مدیریت او پای ته رسولو لپاره؛

۲. عمومي منشی هڅوي چې د (A/49/589) خپل د عمل ستراتیژیک پلان عملي کړي کوم چې د شخړې په له منځه وړلو او د سولي په پروسو کې د تصمیم نیولو په سطحو کې د ښځو د لا زیاتې ونډې اخیستنې لپاره غړ کوي؛

۳. عمومي منشي دې ته اړباسي، چې زیاتې ښځې د خاصو استازیو او نمایندګانو په حیث وټاکي چې د ښه نیت کارونه د نوموړي په نیابت سرته ورسوي، او په دې اړوند په غړیو هیوادونو غږ کوي، چې عمومي منشي ته کاندیداني په هغه مرکزی فهرست کې شاملې کړي چې په منظم ډول له وخت سره عیاریږي؛

۴. بیا هم عمومي منشي دې ته اړباسي چې کوښښ وکړي د ملګرو ملتونو د ساحې پر بنسټ عملیاتونو کې د ښځو موقف او ونډه پراخه کړي او په خاص ډول د پوځې کتونکو، ملکي پولیسو، د بشر د حقونو او بشر پالنې د کارمندانو په منځ کې؛

۵. خپل چمتوالی بیانوي، چې یو د جندر نظر د سولي ساتنې له عملیاتو سره ګډ کړي، او له سرمنشي څخه غواړي، چې د دې اطمینان ورکړي، چې چیرې چې مناسب وي، په ساحوي عملیاتو کې یوه د جندر برخه هم شامله وي؛

۶. له عمومي منشي څخه تمه کوي، چې غړیو هیوادونو ته د ښځو د ساتنې حقونو او ځانګړیو اړتیاو په باره کې لارښوونې او مواد ور کړي او همدارنګه په ټولو د سولي ساتنې او سولي منځ ته راوړلو په تدبیرونو کې د ښځو د ګډون د اهمیت په باره کې؛ غړي هیوادونه رابولي، چې دغه عناصر او همدارنګه ایچ آی وی ایډز څخه د باخبرتیا روزنه خپلو د روزنې په ملي پروګرامونو کې د پوځې او ملکي پولیسو د کارمندانو لپاره ور ګډ کړي، د توظیفولو په چمتووالی کې، او تر دې زیاتره، له عمومي منشي څخه تمه کوي اطمینان ورکړي، چې د سولي ساتنې عملیاتو ملکي کارمندان ورته روزنه لاس ته راوړي؛

۷. غړي هیوادونه دې ته اړباسي چې د جندر حساسیت لرونکو رونیزو هڅو لپاره د خپلې خوښې په خپل مالي، تخنیکي، او لوجستکي مرستو کې زیاتوالی راولي د هغو په ګډون چې د اړونده پانګو او پروګرامونو له خوا سرته رسیدلی دی، د نورو ترڅنګ د ملګرو ملتونو د ښځو او ماشومانو د وجهي صندوق، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنر او نورو اړونده ارګانو له خوا؛

۸. پر ټولو فعالانو باندې د دې غږ کیږي چې د خبرو اترو او د سولي د موافقو پر مهال د جنسیت اړخونه د لاندنیو ټکو سره په پام کې ونیسي:

(الف) د راستنیدو او اسکان، بیرته یو ځای کیدنې او د کړکیچ وروسته بیا رغونې پر مهال د ښځو او نجونو ځانګړې اړتیاوې په پام کې نیول؛

(ب) د هغو تدبیرونو په لاره اچول چې ورسره د سولي لپاره د ښځو د نوښتونو او د لانجو په حل کې د ځآیي او اصلي جریانونو څخه کار واخیستل شي او دا چې ښځې د سولي د پریکړو د میکانیزمونو د پلي کولو لپاره ښځو ته د ګډون امکانات برابر شي؛

(ج) د داسي اقداماتو ترسره کول چي ورسره د ښځو او نجونو د بشري حقونو درناوي په تیره بیا هغه چي د آساسي قانون، انتخاباتي سیستم، پولیس او عدلی سیستم په ډګرونو پورې اړه لري؛

۹. په جګړه کي پر ښکیل ټولو خواوو باندې غږ کول چي هغوي ټول هغه نړیوال قوانین چي د ښځو او نجونو د حقونو او تحفظ په برخه کي دي په تیره بیا د ملکي وګړو په توګه هغه ژمني چي د ۱۹۶۹ کال د ژنیو د میثاقونو او د ۱۹۷۷ کال د اړوندو پروتوکولونو، د ۱۹۵۱ کال د کډوالو د کنوانسیون او د دې سره د ۱۹۶۷ کال د الحاقیه پروتوکول، د ښځو پر خلاف د هر ډول تبعیضونو د له منځه وړلو د ۱۹۷۹ کال کنوانسیون او په دې برخه کي د ۱۹۹۹ کال اختیاري پروتوکول او د ماشوم لپاره د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۹ کال کنوانیسیون او په دې اړوند د ۲۰۰۰ کال د مې د میاشتي دوه اختیاري پروتوکولو کي د انطباق وړ دي په پام کي ونیسي او ورسره د جرمونو د نړیوالي محکمې د روم د قانون اړوندې برخي په یاد وساتي؛

۱۰. د وسله والي جګړې پر ټولو اړخونو غږ کوي چي د جنسیت پر بنسټ د کیدونکی تیری په تیره بیا د جنسی تیري او جنسی ناوړه سلوک د نورو ډولونو او د وسله والي جګړې د حالت د نورو تیریو په وړاندې د ښځو او نجونو د تحفظ لپاره ځانګړی اقدامات ترسره شي؛

۱۱. د ټولو دولتونو پر دې مسوولیت باندې زیات تاکید کوي چي د نسل وژني، د بشري پر ضد د جرمونو او جنګي جرمونو د عاملانو معافیت پای ته ورسوي او هغوي تر قانوني تعقیب لاندې وساتي ؛ دا د هغو کسانو په ګډون ده چي د ښځو او نجونو په وړاندې چي په جنسي او نورو تیریو باندې تورن دي او په دې برخه کي په دې فشار راوړل شي چي چیرته ممکنه وي د دغو جرمونه په اړوند معافیت له منځه ولاړ شي؛

۱۲. د وسله والي جګړې پر ټولو اړخونو غږ کوي چي د کډوالو د کمپونو او د اوسیدني د ځایونو د بشري قانون درناوي وکړي او په دې برخه کي د ښځو او نجونو ځانګړی اړتیاوې د دغو ځایونو د ډیزاین په شمول په پام کي ونیسي چي دلته د ۱۲۰۸ (۱۹۹۸ د نومبر د ۱۹ نېټې) او د ۲۰۰۰ کال د اپریل د ۱۹ نېټې د ۱۲۹۶ ګڼو پریکړه لیکونو یادونه کیږي؛

۱۳. ټول هغه کسان چي د بې وسلې کوو، انحلال او بیرته یو ځای کیدني د چارو د پلان کولو مسوولیت لري باید د پخوانیو جنګیالو د ښځو او نرو د اړوندو کسانو مختلفي اړتیاوې په پام کي ونیسي؛

۱۴. کله چي د ملګرو ملتونو د منشور د ۴۱ مادې سره سم تدابیر او اقدامات په پام کي نیول کیږي په کار ده چي د دې چمتوالی یو ځل بیا وشي چي په ملکي وګړو باندې د دې ممکنه اغیزې څه دي، دلته باید د ښځو او نجونو ځانګړې اړتیاوې او مناسب بشري ځانګړتیاوې او استثنی ګانې په پام کي ونیولې شي؛

۱۵. د دې څرګندول چي د امنیت د شورا له خوا ټاکل شوی پلاوی د جنسیت په اړه ملاحظات او د ښځو حقونه په باوري توګه په پام کي نیسي چي د ښځو د محلي او نړیوالو ګروپونو سره مشاورت هم په کي شامل دی؛

۱۶. د ملګرو ملتونو سرمنشي ته بلنه ورکوي چي پر ښځو او نجونو باندې د وسله والي جګړې د اغیزو، د سولې د اعمار په اړوند د ښځو د نقش او د سوله ییزو بهیرونو د جنسیتي ابعادو، د شخړې د حل په ډګرونو کي یوه مطالعه ترسره کړي، د دې سربیره هغه دې ته رابولي چي د دغې مطالعي د پایلو په اړه د امنیت شورا ته رپوټ وړاندې کړي او هغه د ملګرو ملتونو د سازمان د ټولو غړو دولتونو په واک کي ورکړي؛

۱۷. د سرمنشي څخه هیله کوي چیرته چي مناسبه وي د امنیت شورا ته په خپلو رپوټونو کي د سوله ساتو ماموریتونو او نورو ټولو هغو ډګرونو کي چي د ښځو او نجونو په اړوند وي د جنسیت په اړه په اصلي مسیرونو کي د پرمختګ په اړه معلومات ورکړي؛

۱۸. د دې پریکړه کوي چي ددې موضوع څخه په فعالانه ډول خبرتیا لري.